**د روژې میاشت؛ د متقیانو او پرهېزګارانو لپاره ښه موکه**



دم ګړۍ مسلمانان له ګڼ شمېر وحشتونو او کړاوونو سره مخ دي. موږ یې وینو چې په ټوله نړۍ کې د بې ګناه مسلمانانو وینې تویږي، کفار د اسلامي خاورو اشغال ته دوام ورکوي، مسلمانان یې له بې عدالتۍ سره مخ کړي دي او د اسلامي نړۍ دوه مخي واکمنان مو امت او دین د ناځیزه بیې په بدل کې پلوري. موږ وینو چې مسلمانې ښځې او ماشومان له ګڼو ستونزو، لکه: تاوترخوالي، ځورونو او لوږې سره مخ دي، خو پر وړاندې یې هیڅ کوم عملي ګام نه اخلو، یوازې د یاد وحشت او ناورین ننداره کوو! که د مسلمانانو په زړونو کې تقوا نه وي، نو یاد حالت به په همدې ډول روان وي.

روژه هغه میاشت ده چې الله سبحانه و تعالی هر تن ته د نفس د تزکیې او ګناهونو د ښښنې موکه ورکوي، ترڅو له متقینو او پر هېز ګارانو څخه شي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿فَمَن تَابَ مِن بَعدِ ظُلمِهِ وَأَصلَحَ فَإِنَّ اللَّهَ يَتُوبُ عَلَيهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾**

[المائدة: ۳۹]

*ژباړه: نو چا چې له ظلم وروسته توبه وکړه او ځان اصلاح کړي، له شکه پرته الله یې توبه قبلوي. الله ډېر بښونکی او زیات مهربان دی.*

له ابو هریره څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

**«مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»**

*چا چې په روژه کې په اخلاص او صداقت سره په دې هیله لمونځونه ادا کړل، چې د الله سبحانه و تعالی رضایت ترلاسه کړي، نه د ریا لپاره الله سبحانه و تعالی به د ده ټول ګناهونه وبښي.*

الله سبحانه و تعالی پر خپلو بنده ګانو له حده زیات مهربان دی او د هغو توبه کوونکو توبه قبلوي، چې له بیا ګناه کولو څخه مخ اړه وي. الله سبحانه و تعالی په قرآن کې فرمایي:

**﴿وَاللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ﴾**

[النساء: ۲۷]

*ژباړه:الله سبحانه و تعالی په رحمت سره تاسو ته پاملرنه کوي.*

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایې، چې له یوې روژې څخه تر بلې روژې پورې ښښنه ده.

ابوهریره رضی الله عنه له رسول صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي:

**«الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ، وَالْجُمْعَةُ إِلَى الْجُمْعَةِ، وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ، مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ»**

(امام مسلم)

*د پنځو لمونځونو ترمنځ، د یوې جمعې له لمانځه څخه د بلې جمعې تر لمانځه پورې او له یوې روژې تر بلې روژې پورې ټول ګناهونه ښنل کېږي، چې لوی ګناهونه نه وي شوي.*

رسول صلی الله علیه و سلم تل زاری کولې او ویل یې:

**«اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ»**

*اې الله! د رجب او شعبان میاشتې موږ ته مبارکې وګرځوې او موږ د بلې روژې تر میاشتې پورې ورسوې!.*

د رسول صلی الله علیه وسلم اصحابو به د روژې له میاشتې څخه شپږ میاشتې مخکې تیاری نیولو او له الله سبحانه و تعالی څخه به یې ښښنه غوښتله او کله چې به د روژې میاشت را ورسېدله، نو د دوی د ایمان درجه به تر ټولو لوړه وه. د روژې تر پای ته رسېدو وروسته په راتلونکو شپږو میاشتو کې به دوی له الله سبحانه و تعالی څخه د خپلو عملونو د قبلېدو غوښتنه کوله.

په پورته نصوصو کې د رسول صلی الله علیه و سلم او د ده د اصحابو د تقوا بېلګې له ورایه ښکاري، ځکه دوی د تقوا په اصلي مفهوم پوهېدل. له هغه چا سره چې جنت ته د تللو ژمنه شوې وي او بیا هم د الله سبحانه و تعالی له ویرې د بخښنې په لټه کې وي، هغوی ریښتینې متقین دي. د روژې میاشت د ټولو مسلمانانو لپاره ده، چې

په دې مبارکه میاشت کې دوی کولای شي ځانونه متقیان کړي او د جنت د لاسته راوړلو لپاره الله سبحانه و تعالی ته ځانونه نږدې او رضایت یې ترلاسه کړي. دا له الله سبحانه و تعالی څخه د بښنې، له هغه څخه د وېرې، د شرعي حکمونو د عملي کولو او د غیر شرعي فکرونو د پرېښودلو میاشت ده. دا میاشت ښایي ستا لپاره اخرنۍ روژه وي، نو اعظمي ګټه ترې واخله. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِی عَنِّی فَانِیِّ قَرِیبٌ اُجِیبُ دَعوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ فَلیَستَجِیبُوا لِی وَلیُؤمِنُوا بِی لَعَلَّهُم یَرشُدُونَ﴾**

[البقرة: ۱۸٦]

*ژباړه: او (اې پېغمبره!) کله مې چې بنده ګان زما په اړه درنه پوښتنه کوي، هغوی ته ووایه چې زه ورته ډېر نږدې یم. د دعا کوونکي دعا قبلوم، کله چې له ما نه دعا وغواړي، نو دوی د زما حکم ومني او پر ما دې ایمان راوړي، ښايي سمه لار ومومي.*

موږ باید له الله سبحانه و تعالی څخه د مخکنیو متقینو په څېر د بښنې غوښتنه وکړو. دنیا مو باید معیار نه وي ګرځولې، باید جرئت ولرو او د بې عدالتۍ پر وړاندې له چوپتیا څخه ګټه وا نه اخلو. مسلمانان نه یوازې د خپل ځان مسولیت لري، بلکې د ټول امت مسولیت یې په غاړه دی. د امت د ازادۍ یوازینۍ لار خلافت دی. راشئ! چې د نبوت پر طریقه د خلافت د بیا تاسیس لپاره متې را ونغاړو، هیله ولرو چې الله سبحانه و تعالی به را ته بښنه وکړي او د قیامت په ورځ به مو له جنتیانو څخه وګرځوي!

**لیکواله: امانه عابد**

**ژباړن: صدیق احمدزی**